COVID-19 VACCINE

# د COVID-19 واکسینونه

## ستاسو د Pfizer یا Novavax واکسین په اړه معلومات

نسخه 2
اګست 2024

Rialtas na hÉireann
Government of Ireland

# ددې معلوماتي کتابچې په اړه

دا معلوماتي کتابچه ستاسو د COVID-19 واکسینونو په اړه عمومي معلومات وړاندې کوي.

مخکې له دې چې تاسو واکسین ترلاسه کړئ، دا معلوماتي کتابچه ستاسو د لوستلو لپاره آنلاین شتون لري او د واکسین ترلاسه کولو پرمهال به دا تاسو ته درکړل شي.

- واکسینونه، پیاوړي کوونکي (بوستر) او اضافي دوزونه
- مناسب ګرځول شوي واکسینونه
- امیندواري او شیدې (تی) ورکول
- COVID-19 او ماشومان
- د عمر له مخې وړاندیز شوي واکسینونه
- د COVID-19 واکسین له ترلاسه کولو څخه وروسته د څه شي تمه کولی شئ
- له دې دوو واکسینونو څخه هر یو یې - اړخیزې اغېزې (جانبي عوارض) او کله باید یو ځانګړی واکسین ترسره نشي

### د COVID-19 Pfizer واکسین چې د Comirnaty په نوم هم یادېږي

- » د Pfizer واکسین احتمالي اړخیزې اغېزې (جانبي عوارض)
- » کله باید تاسو د Pfizer واکسین ترسره نکړئ

### د COVID-19 Novavax واکسین چې د Nuvaxovid په نوم هم یادېږي

- » د Novavax واکسین احتمالي اړخیزې اغېزې (جانبي عوارض)
- » کله باید تاسو د Novavax واکسین ترسره نکړئ

- د واکسین د اغېزې کولو لپاره اړین وخت
- د اړخیزو اغېزو په اړه راپور ورکول
- ستاسو شخصي معلومات
- چیرته نور معلومات ترلاسه کولی شئ

ددې معلوماتي کتابچې له لوستلو څخه وروسته، ستاسو واکسینوونکی کولی شي چې ستاسو هرې پوښتنې ته ځواب ووایي.

د مهربانۍ له مخې دا معلوماتي کتابچه وساتئ، ځکه چې ښایي اړتیا ولرئ چې بیرته دې ته مراجعه وکړئ

که چیرې تاسو ددې معلوماتي کتابچې ژباړل شوې بڼه غواړئ، له **www.hse.ie/covid19vaccinematerials** څخه لیدنه وکړئ

## ستاسو د COVID-19 واکسین په اړه

د COVID-19 څخه د ځان ساتلو ترټولو غوره لاره د COVID-19 واکسینونه دي. له هغه وخته چې دا واکسینونه وړاندې شوي دي، مونږ په آیرلینډ کې ددې ویروس له امله نسبتاً لږ شمېر جدي ناروغان او مړینې لیدلي دي.

د COVID-19 واکسین ترسره کول ستاسو لپاره د COVID-19 له امله د جدي عوارضو د رامنځته کېدو خطر راټیټوي. د خلکو د خوندي ساتلو او د جدي ناروغانو شمېر او د مړینو شمېر راټیټولو ته د دوام ورکولو لپاره، HSE په آیرلینډ کې خلک واکسینوي.

دا کتابچه د آیرلینډ د COVID-19 په وړاندې د واکسینولو پروګرام کې د اوسنیو واکسینونو په اړه معلومات لري: **Pfizer** او **Novavax**.

## واکسینونه، پیاوړي کوونکي (بوستر) او اضافي دوزونه

کله چې مونږ په دې معلوماتي کتابچه کې د واکسین یا واکسینونو کلمه په کار وړو، نو له دې څخه زمونږ موخه لاندې ټکي وي:

- یو لومړنی دوره - لومړنی دوز. ځینې ماشومان چې عمرونه یې له 6 میاشتو څخه تر 4 کلونو پورې وي، ښايي د خپلې لومړنۍ دورې لپاره دویم دوز ته اړتیا ولري. هغه خلک چې د معافیت سیستم یې کمزورې وي، د خپلې لومړنۍ دورې لپاره دویم ته او ځینې ښايي دریم دوز ته اړتیا ولري.
- د ځینو خلکو عمر یا روغتیايي مخینې ته په پام سره، ښايي د هغوی لپاره د پیاوړي کوونکي (بوسټر) دوز سپارښتنه وشي.

### لومړنۍ دوره

د لاندې کسانو لپاره د COVID-19 واکسین د لومړنۍ دورې سپارښتنه کېږي:

- هغه کسان چې عمرونه یې 60 کاله یا له دې پورته وي.
- هغه کسان چې عمرونه یې د 59-18 کلونو ترمنځ وي او د لویانو پاملرنې لپاره ځانګړو شوو اوږدمهاله مرکزونو کې ژوند کوي.
- هغه کسان چې عمرونه یې له 6 میاشتو څخه تر 59 کلونو پورې وي او لاندې حالتونه ولري:
  - » واکسین کولو ته له غیر مناسب غبرګون سره تړاو لرونکې د معافیت کمزوري.
  - » د داسې طبي شرایطو (ناروغیو) لرونکي چې د COVID-19 له امله په روغتون له بستري کېدو، شدیدې ناروغۍ یا مرګ سره تړاو لري.
- د روغتیا او پاملرنې برخې کارکوونکي
- امیندواره تنکي ځوانان او لویان

د هغو سالمو (صحتمندو) کسانو لپاره چې عمرونه یې له 6 میاشتو څخه تر 59 کلونو پورې وي، په منظم ډول د COVID-19 واکسین د لومړنۍ دورې ترسره کولو سپارښتنه نه کېږي. خو له خپل روغتیاپال (د بېلګې په توګه، عمومي ډاکټر، درمل پوه یا د HSE واکسینوونکي) سره د خبرو اترو پر بنسټ، تاسو کولی شئ چې د COVID-19 واکسین لومړني دوز ته لاسرسی ومومئ.

د واکسین لومړنۍ دوره په لاندې ډول تعریفیږي:

- د هغو کسانو لپاره یو واحد دوز چې عمرونه یې 5 کاله یا له دې پورته وي.
- د هغو کسانو لپاره چې عمرونه یې له 6 میاشتو څخه تر 4 کلونو پورې وي.
  - » د 4 اونیو په واټن سره لومړنی او دویم دوز، که چېرې دوی مخکې په COVID-19 ناروغۍ باندې اخته شوي نه وي.
  - » یو واحد دوز، که چېرې دوی مخکې په COVID-19 ناروغۍ اخته شوي وي.
- د هغو کسانو لپاره چې عمرونه یې 6 میاشتې له دې پورته وي او د معافیت کمزورې سیستم ولري، د 4 اونیو په واټن سره لومړنی او دویم دوز.

### دریم دوز

دریم دوز د اړوند متخصص ډاکټر له لارښوونې وروسته ښایي هغه کسانو ته له دویم دوز څخه 8 اونۍ وروسته ورکړل شي چې د معافیت کمزورې سیستم لري.

### پیاوړي کوونکي (بوسټر) دوزونه

هغه خوندیتوب چې تاسو له مخکینیو واکسینونو څخه یا هغه خوندیتوب چې تاسو په COVID-19 له اخته کېدو څخه ترلاسه کړی وي، ښایي د وخت په تېرېدو سره کمزورې شي. پیاوړي کوونکي (بوسټر) دوزونه د COVID-19 د شدیدو عوارضو په مقابل کې ستاسو خوندیتوب لوړوي.

له لومړنۍ دورې څخه وروسته، د ځینو وګړو لپاره د پیاوړي کوونکي (بوسټر) دوزونو سپارښتنه کېږي. په دې اړه د نورو معلوماتو ترلاسه کولو لپاره چې ستاسو د COVID-19 بل واکسین کله ترسره کېږي، له **www.hse.ie** څخه لیدنه وکړئ یا د **1800 700 700** شمېرې په وسیله په HSELive کې زمونږ له ټیم سره اړیکه ونیسئ.

## مناسب ګرځول شوي واکسینونه

تاسو ته به د Pfizer لخوا تازه جوړ شوی د Comirnaty mRNA واکسین درکړل شي یا د هغو کسانو لپاره چې نشي کولی یا نه غواړي چې د mRNA واکسین ترلاسه کړي، نو تاسو ته به د Novavax لخوا تازه جوړ شوی د COVID-19 د Nuvaxovid واکسین درکړل شي.

د COVID-19 د فشارونو د بېلابېلو ډولونو په وړاندې د خوندي کولو لپاره د Comirnaty مناسب ګرځول شوي واکسینونه mRNA لري. تمه کېږي چې دا واکسینونه د اصلي واکسین په پرتله د COVID-19 د بېلابېلو بڼو په مقابل کې د پراخه خوندیتوب لامل کېږي.

د Novavax واکسین هم د COVID-19 مناسب ګرځول شوی واکسین دی.

د مناسب ګرځول شویو واکسینونو سپارښتنه د معافیت ملي مشورتي کمېټې (National Immunisation Advisory Committee) له لورې کېږي او د اروپا د درملو اداري (European Medicines Agency) له لورې منل شوي دي.

**مهم:**

د اروپا د درملو اداري (EMA) او د معافیت ملي مشورتي کمیټې (NIAC) مشورې ممکن ځینې وختونه توپیر ولري. کله چې داسې څه پېښېږي، نو مونږ په آیرلېنډ کې د NIAC لارښوونې تعقیبوو.

## امیندواري او شیدې (تی) ورکول

که چېرې تاسو امیندواره یاست، نو باید د COVID-19 واکسین ترسره کړئ.

که چېرې شیدې (تی) ورکوئ، نو د COVID-19 واکسین ترسره کول خوندي دي (کوم خطر نلري).

که چېرې تاسو د ماشوم لرلو هڅه کوئ یا ښایي امیندواره شئ، نو اړتیا نلرئ چې د COVID-19 واکسین ترسره کول وځنډوئ.

ډېرى امیندواره خلک چې په ویروس اخته کېږي، حتی که چېرې د COVID-19 واکسین یې هم نه وي کړي، بیا هم له کم څخه تر معتدل پورې نښې نښانې لري. دوی د پلان سره سم ماشوم زیږوي او خپل ماشوم ته د COVID-19 ناروغۍ د انتقالولو خطر یې لږ دی.

خو که چېرې تاسو د امیندوارۍ پر مهال د COVID-19 په ناروغۍ اخته شئ، نو ډېر احتمال شته چې تاسو شدید ناروغه او د جدي پاملرنې په څانګه کې درملنې ته اړتیا پیدا کړئ. دا ویروس ښایي ستاسو په ماشوم باندې هم اغېزې ولري.

هغه ماشومان چې عمرونه یې له 1 کال څخه کم وي، د COVID-19 له امله په روغتون کې د بستري کېدو او شدید ناروغه کېدو له لوړ خطر سره مخامخ وي. هغه نوي زیږېدلي ماشومان چې میندو یې د امیندوارۍ پرمهال واکسین ترسره کړی وي، لږ احتمال لري چې د COVID-19 له امله په روغتون کې درملنې ته اړتیا پیدا کړي.

دا خوندي (بې خطره) ده چې د امیندوارۍ پرمهال د نورو ترسره کېدونکو واکسینونو سره په ورته مهال خپل د COVID-19 واکسین ترسره کړئ.

که چېرې تاسو امیندواره یاست، نو احتمال لري چې تاسو ته د **Pfizer** واکسین درکړل شي. دا د mRNA ډول واکسین دی - هغه واکسین چې ستاسو بدن ته د COVID-19 ویروس په مقابل کې د مقاومت لپاره د انټي باډۍ د جوړولو څرنګوالی ورښایي.

خو که چېرې تاسو ته ستاسو د ډاکټر له لورې لارښوونه شوې وي چې نشئ کولی د mRNA واکسین ترسره کړئ، نو د یو ډاکټر، قابلې یا واکسینوونکي په خبر، له یو روغتیایي مختصص سره ستاسو لپاره د واکسین د خطرونو او ګټو په اړه له خبرو اترو وروسته د **Novavax** واکسین ترسره کول په پام کې نیول کېدی شي.

مونږ په امیندواره میرمنو باندې د **Novavax** واکسین د کارولو په اړه لږ معلومات لرو. تاسو کولی شئ چې په **www.hse.ie** کې نور معلومات ترلاسه کړئ.

که چېرې تاسو خپله د واکسین لومړنۍ دوره نه وي ترسره کړې، نو دا د امیندوارۍ په هره مرحله کې ترسره کېدی شي.

**که چیرې تاسو امیندواره یاست، نو د COVID-19 واکسین** یا په ویروس له اخته کېدو څخه له 6 میاشتو ډېر وخت تېرېدو وروسته د امیندوارۍ پرمهال د COVID-19 پیاوړي کوونکي (بوسټر) واکسین ترسره کولو سپارښتنه کېږي. دا پیاوړی کوونکی (بوسټر) دوز د امیندوارۍ په هره مرحله کې ترسره کېدی شي خو د امیندوارۍ په 20-34 اونیو کې یې د ترسره کولو سپارښتنه کېږي. که چیرې ستاسو د COVID-19 مخکیني واکسین یا مرض څخه له 12 میاشتو څخه ډېر وخت تېر شوی وي، نو تاسو کولی شئ چې دا ژر ترسره کړئ.

که چیرې تاسو کومه پوښتنه لرئ، نو کولی شئ چې له یو باوري روغتیايي متخصص سره خبرې وکړئ.

د امیندوارۍ پرمهال تاسو د COVID-19 یوازې یو دوز واکسین ته اړتیا لرئ. خو که چیرې تاسو امیندواره یاست او د معافیت کمزوری سیستم لرئ، نو کولی شئ چې د COVID-19 له خپل مخکیني واکسین ترسره کولو یا مرض څخه لږ تر لږه 6 میاشتې وروسته دویم دوز ترسره کړئ.

## COVID-19 او ماشومان

د هغو ماشومانو اکثریت چې په COVID-19 باندې اخته کېږي، ډېرې کمې نښې نښانې یا هیڅ نښې نښانې نلري.

COVID-19 د جدي ناروغۍ، روغتون کې د بستر کېدا یا آن چې د مرګ لامل ګرځېدلی شي، خوا داسې ډېر لږ کیږي. سره له دې چې په ماشومانو کې بستري کېدو او شدیدې ناروغۍ خطر ډېر کم دی، دا خطر په کوچنیو ماشومانو کې نسبتاً لوړ دی.

ځینې وخت د COVID-19 سره تړاو لرونکې نښې د څو اونیو یا میاشتو پورې دوام لري. دې ته 'اوږود کوویډ' ویل کیږي. د دې ناروغۍ خطر د لویانو په پرتله په ماشومانو کې کم وي.

د ماشوم له پاره د COVID-19 له امله په روغتون کې د بستري کېدو خطر ډېر کم دی، او د هر ماشوم له پاره د سختې ناروغۍ او درملنې خطر هم لا ډېر کم دی.

ماشومان چې ځیني روغتیايي وضعیتونه لري په جدي ډول د ناروغه کېدو یا بستري کېدو زیات خطر لري که په COVID-19 اخته شي.

په ډېرو نادرو موقعو کې، COVID-19 په ماشومانو کې د ګڼو سستمونو کې د سوځېدا سندروم (MIS-C) په نوم د یو وضعیت لامل ګرځېدلی شي.

نوموړی وضعیت د سینه بغل، د زړه د التهاب او په تنفس کې د ستونزو لامل کیږي. د MIS-C لرونکي ماشومان په روغتون یا جدي پاملرنې خانګه کې له څه وخت تېرولو وروسته بیرته جوړېږي او ډېر لږ شمېر یې مړه کېږي.

## د ستاسې د ماشوم د واکسین کېدا لپاره د ستاسي رضایت

د هر ماشوم د واکسین کولو لپاره به د والدینو یا قانوني سرپرست څخه د واکسین د ورکولو اجازه اخستل کیږي.

د واکسین ترسره کولو لپاره ستاسو د رضایت ورکړې یا نه ورکړې ته درناوی کېږي.

ستاسو د غوراویو په اړه د باخبره اوسېدلو په موخه ښایې لاندې جدول ګټور وي.

| د خپل ماشوم د واکسین د ترلاسه کولو په اړه فکر وکړئ که: | د خپل ماشوم د واکسین د نه ترلاسه کولو فکر وکړئ، یا د نورو معلوماتو ترلاسي پورې انتظار کوئ، که: |
|---|---|
| • ستاسې ماشوم داسې اساسي روغتیایي وضعیتونه لري چې که COVID-19 ورته ولګي نو زیات جدي ناروغه کېدو خطر لري.<br>• ستاسې ماشوم یو داسې ماشوم یا بالغ سره اوسیږي چې د COVID-19 لوړ خطر لري.<br>• تاسو غواړئ چې خپل ماشوم د COVID-19 د خورا کمیاب امکان شدید احتمالي التهابي سنډروم د څو ګوني سیستم (Multisystem Inflammatory Syndrome) یا "اوږود کوویډ" پر وړاندې خوندي کړئ. | • تاسې د واکسیناسیون له امله نه غواړئ چې د مایوکارډایټس او د پېري کارډایټس د ډېرو نادرو وضعیتونو خطر په غاړه واخلئ.<br>• تاسو غواړئ په تمه واوسئ تر څو په ماشومانو کې د COVID-19 د التهابي سنډروم د څو ګوني سیستم (Multisystem Inflammatory Syndrome) د را منځته کېدو د خطر په اړه نور معلومات د لاسرسي وړ وګرځي.<br>• تاسو غواړئ په تمه شئ تر څو پر ماشومانو د واکسین د اوږد مهاله اغېزو په اړه نور معلومات د لاسرسي وړ وګرځي. |

| د واکسين ګټې: | د واکسين خطرونه: |
|---|---|
| • له COVID-19 څخه خونديتوب.<br>• د هغو ماشومانو لپاره خونديتوب چې داسې روغتيايي ستونزې (ناروغۍ) لري چې د COVID-19 له امله له جدي ناروغه کېدو له خطر سره يې مخامخ کوي.<br>• د جدي COVID-19 ناروغۍ څخه د سالمو (صحتمندو) ماشومانو خونديتوب - سره له دې چې داپېښې په دې عمر خلکو کې ډېر نادرې دي. د ماشوم له پاره د COVID-19 له امله په روغتون کې د بسترې کېدو خطر ډېر کم دی، او د هر ماشوم له پاره د سختې ناروغۍ او درملنې خطر هم لا ډېر کم دی.<br>• له COVID-19 څخه خونديتوب، او د COVID-19 پېچلتياوې لکه 'اوږده کوويډ' او د ګڼو سيستونو التهابي سينډروم (Multisystem Inflammatory Syndrome) په ماشومانو کې.<br>• ښايي مرسته وکړي چې نورو ته د COVID-19 د خپرېدا څخه مخنيوی وشي. دا په ځانګړي ډول په هغه وخت کې مهمه ده کله چې ماشومان او ځوانان له خپلې داسې خور/ورور يا يو لوی کس سره ژوند کوي چې د COVID-19 جدي ناروغۍ له خطر سره مخامخ وي. | • د لنډې مودې اړخيز اغېزونه لکه سور شوی مټ، تبه، يا ستړيا.<br>• ښايي په 100000 تنانو کې 1 تن جدي اړخيز اغېزونه ولري، لکه واکسين ته الرجيک عکس العمل.<br>• ډېر په نادرو موقعو ځينې خلک د واکسين ترلاسه کولو وروسته په زړه کې د سوځېدا احساس (مايوکارډايټس) يا د زړه بهرنۍ سطحه کې د سوځېدا احساس (پېري کارډايټس) ولري. ډېری خلک د مايوکارډايټس او پېري کارډايټس څخه روغ شي خو ښايي چې روغتون کې بستر کېدا ته اړتيا ولري.<br>• مور تر دې دمه پر ماشومانو کې د COVID-19 واکسين د اغېزو په اړه معلومات نلرو. |

## د عمر له مخې وړاندیز شوي واکسینونه

د لاندې حالتونو په لرلو سره د COVID-19 ټول واکسینونه تاسو ته د COVID-19 ناروغۍ له امله له جدي ناروغه کېدو څخه خوندیتوب برابروي:

- ستاسو د واکسین لومړنۍ دوره او
- هر هغه پیاوړي کوونکي (بوسټر) دوزونه چې ستاسو لپاره یې سپارښتنه کېږي.

د معافیت ملي مشورتي کمېټه (NIAC) سپارښتنه کوي چې تاسو د لومړنۍ دورې لپاره د **Pfizer** - COVID-19 mRNA مناسب ګرځول شوی واکسین او پیاوړي کوونکي (بوسټر) دوزونه ترسره کړئ، حتی که چېرې تاسو مخکې بل ډول واکسین هم ترسره کړي وي.

**د عمر له مخې مشوره:**

کچیرته تاسو:

- 6 میاشتې یا له دې پورته عمر لرئ، نو تاسو ته د COVID-19 لپاره د **Pfizer** واکسین درکړل شي

که چېرې تاسو د mRNA واکسین نشئ ترسره کولی یا نه غواړئ چې د mRNA واکسین ترسره کړئ، نو ښایي چې تاسو ته د **Novavax** واکسین درکړل شي. **Novavax** په هغو خلکو باندې د استعمال لپاره منل شوی دی چې عمرونه یې 12 کاله یا له دې پورته وي.

## د COVID-19 واکسین له ترلاسه کولو څخه وروسته د څه شي تمه کولی شئ

د ټولو درملو په شان واکسین هم **اړخیز اغېزې** لرلی شي.ډېری اغېزونه یې له نرم څخه تر معتدل، لنډمهاله دي، او هر چا کې نه ښکاره کیږي.

سختې اړخیزې اغېزې، لکه حساسیتي عکس العمل، په ندرت سره لیدل شوي دي. تاسو ته واکسین درکوونکی د جدي الرجیک عکس العمل د درملنې روزنه لري.

اړخیزې اغېزې ښایي د هر واکسین لپاره توپیر ولري او د هغه واکسین لپاره چې تاسو یې ترسره کوئ باید دا معلوماتي کتابچه او د تولیدوونکي له لوري د ناروغانو لپاره چمتو شوې معلوماتي پاڼه ولولئ. د تولیدوونکي معلوماتي پاڼه په **www.hse.ie** کې شتون لري یا مونږ کولی شو چې د واکسین ترسره کولو په ورځ تاسو ته یې یوه کاپي درکړو.

په بله برخه کې، مونږ تاسو ته په دې معلوماتي کتابچه کې د COVID-19 د دوو تشریح شوو واکسینونو د اړخیزو اغېزو (جانبي) عوارضو په اړه معلومات درکوو او تاسو ته وایو چې دا اړخیزې اغېزې څومره عامې یا نادره دي. همدارنګه مونږ په دې اړه هم معلومات ورکوو چې څوک باید واکسین ترسره نکړي. تاسو کولی شئ چې په **www.hse.ie** نور معلومات ومومئ.

## دا 2 واکسینونه - د دوی اړخیزې اغېزې (جانبي عوارض) او کله باید یو ځانګړی واکسین ترسره نشي

په بله پاڼه کېږي، مونږ تاسو ته د احتمالي اړخیزو اغېزو په اړه او داچې څه وخت باید یو ځانګړی واکسین ترسره نشي، معلومات درکوو. مونږ اړخیزې اغېزې په ډلو باندې ویشو چې له ډېرو عامو څخه بیا تر ډېرو نادرو پورې دي.

- ډېرې عامې - په 10 کسانو کې له 1 څخه ډېرې
- عامې - په 10 کسانو کې تر 1 پورې
- غیر معمولي - په 100 کسانو کې تر 1 پورې
- نادرې - په 1,000 کسانو کې تر 1 پورې
- ډېرې نادرې - په 10,000 کسانو کې تر 1 پورې
- خورا نادرې. دا لا تر اوسه معلومه نده چې ددې واکسین ترسره کوونکي څومره کسان له دې اړخیزو اغېزو سره مخ کېږي مګر خو داسې فکر کېږي چې دا خورا نادرې دي.

په داسې حال کې چې مختلف واکسینونه مشترکې اړخیزې اغېزې لري، تاسو باید د ترسره کوونکي واکسین لپاره ذکر شوو اړخیزو اغېزو ته پام وکړئ. د واکسین نوم ستاسو د واکسینوونکي له لوري تاسو ته په درکړل شوي کارت او د معلوماتي کتابچې په پاڼو باندې ذکر شوی وي. تاسو باید د واکسین له ترسره کولو څخه وروسته په ساعتونو او ورځو کې د واکسین اړخیزو اغېزو ته پام وکړئ.

# د COVID-19 Pfizer واکسین چې د *Comirnaty* په نوم هم یادېږي

احتمالي اړخیزې اغېزې او داچې په څومره تکرار سره واقع کېږي، لاندې ذکر شوي دي، چې ورپسې هغه معلومات راوړل شوي دي چې کله باید دا واکسین ترسره نشي. که چېرې په کوم شک کې یاست، نو تل له یو باوري روغتیایي متخصص څخه پوښتنه وکړئ.

| احتمالي اړخیزې اغېزې (جانبي عوارض): | |
|---|---|
| **ډېرې عامې**<br>په 10 کسانو کې له 1 څخه ډېرې | • د ستړیا احساس<br>• له لمس کولو سره حساسیت لرل (په هغو ماشومانو کې چې عمرونه یې له 6 میاشتو څخه تر 23 میاشتو پورې وي) یا په هغه ځای کې درد یا پړسوب چېرې چې تاسو د واکسین پیچکاری کړې وي<br>• د سر درد<br>• عضلاتو کې درد<br>• د غړو درد<br>• دستونه<br>• تبه - د حرارت درجه د سانتي ګراد 38 درجې یا پورته - یا لړزه<br>• په واکسین شوي ځای کې سوروالی (په هغو ماشومانو کې چې عمرونه یې له 6 میاشتو څخه تر 11 کلونو پورې وي)<br>• تحریکېدنه (په هغو ماشومانو کې چې عمرونه یې له 6 میاشتو څخه تر 23 میاشتو پورې وي)<br>• د اشتها کموالی (په هغو ماشومانو کې چې عمرونه یې له 6 میاشتو څخه تر 23 میاشتو پورې وي)<br>• خوبوړی (په هغو ماشومانو کې چې عمرونه یې له 6 میاشتو څخه تر 23 میاشتو پورې وي) |
| **عامې**<br>په 10 کسانو کې تر 1 پورې | • د زړه بدېدنه<br>• کانګې کول<br>• په واکسین شوي ځای کې سوروالی<br>• د لمفاوي غدو پړسوب. دا له پیاوړي کوونکي (بوسټر) دوز څخه وروسته ډېر عام وي.<br>• ګرمکې (په هغو ماشومانو کې چې عمرونه یې له 6 میاشتو څخه تر 23 میاشتو پورې وي) |

| | |
|---|---|
| **غیر معمولي**<br>په 100 کسانو کې تر 1 پورې | • په واکسین شوي ځای کې خارښت<br>• سربدالي/سر ګرځېدنه<br>• عمومي خارښت<br>• حساسیتي غبرګونونه لکه په مخ باندې لړمې یا ګرمکې یا پړسوب<br>• بی خوبي<br>• له حده ډېره خوله کول<br>• شپنی خولې<br>• د اشتها کموالی<br>• د انرژۍ لږوالی، بی حالي یا د ناروغۍ احساس<br>• په هغه لاس کې درد چې واکسین پکې شوی |
| **نادرې**<br>په 1.000 کسانو کې تر 1 پورې | • د مخ په یوه پلو کې لنډمهاله ځوړندېدنه |
| **ډېرې نادرې**<br>په 10.000 کسانو کې تر 1 پورې | • مایوکارډایټس (myocarditis) او پیري کارډایټس (pericarditis). د زړه عضلې د التهاب یا د زړه عضلې دنني پوښ په معنی دی. د نښو نښانو لپاره بله پاڼه وګورئ. |
| **خورا نادرې**<br>تکرار یې تر اوسه معلوم ندی | • یو شدید حساسیتي غبرګون<br>• اریتیما ملټیفورما (Erythema Multiforme)، د پوستکي غبرګون چې په پوستکي باندې د سور رنګ داغونو او سوروالي لامل ګرځي چې د په نښه شوي ځای یا "دایروي سورې" ته ورته ښکاري چې په مینځ کې تک سور او چاپېره پیکه سرې حلقې لري<br>• د مخ پړسوب که چېرې تاسو د مخ ډکوونکي لرئ<br>• په هغه مټ یا ورون کې خورا ډېر پړسوب چېرې چې واکسین شوی دی<br>• د بدن په ځینو برخو کې د اغزي کېدو یا د چوخېدلو احساس یا د احساس له لاسه ورکول<br>• شدید میاشتنی عادت (حیض) |

مایوکارډایټس او پیري کارډایټس د په زړه کې د سوځېدا د احساس وضعیتونه دي. په ځوانو سړیو کې د دې خورا نادار وضعیت رامنځته کېدو خطر تر نورو ډېر دی.

د زړه دا وضعیتونه د دویم خوراک وروسته د رامنځته کېدو زیات امکان لري او ډېری وخت د واکسین ترلاسه کولو وروسته په 14 ورځو کې دننه رامنځته کیږي.

دوو اروپايي څېړنو د واکسین له دویم دوز څخه وروسته د مایوکارډایټیس اټکل کړی دی:

- په هر 38,000 نارینو کې یوه اضافي پېښه چې عمر یې د 12 څخه تر 29 و (په 7 ورځو کې دننه)
- په هر 17,500 نارینو کې یوه اضافي پېښه چې عمر یې د 16 څخه تر 24 و (په 28 ورځو کې دننه)

موجود معلومات ښيي چې له 5 څخه تر 11 کلونو پورې عمر لرونکو ماشومانو کې د لومړنۍ دورې وروسته مایوکارډایټس او پیریکارډایټس خورا نادر او د 12 څخه تر 17 کلونو پورې عمر لرونکو کسانو په نسبت کم دی. د پیاوړي کوونکو (بوسټر) دوزونو وروسته د مایوکارډایټس او پیریکارډایټس نرخونه په لومړني دورې کې د دوهم دوز څخه وروسته وخت په پرتله لوړ نه ښکاري.

ډېری خلک په خپله یا ملاتړي معالجې سره ښه کېږي، خو په روغتون کې پاملرنې ته به اړتیا ولري. موږ له نه یو پوهه چې آیا دغه اړخیزو اغېزونو له امله به کوم اوږد مهاله ستونزې پیدا شي یا نه.

## د مایوکارډایټس او پېري کارډایټس نښې

ددې واکسین له کولو څخه وروسته، که چېرې تاسې ددې نښو نښانو څخه کومه یوه یې ولرئ، نو طبي مرسته ترلاسه کړئ:

- ساه لنډي
- د زړه چټک یا غیر معمولي ضربان - د زړه زورور ضربان چې ښایي غیرمعمولي وي
- په سینه کې درد

---

## تاسو باید د COVID-19 د Comirnaty **Pfizer** واکسین ونکړئ که چېرې:

- تاسو د پولي ایتلین ګلایکول یا PEG په ګډون د واکسین له موادو څخه کوم یوه له امله سخت حساسیتي غبرګون درلودلی وي. د اجزاو د لیست کتلو لپاره د ناروغانو لپاره د تولیدوونکي معلوماتي پاڼه وګورئ.
- تاسو د COVID-19 د **Pfizer** واکسین یا د Spikevax **Moderna** واکسین د پخواني دوز وروسته سخت حساسیتي غبرګون درلود.
- تاسو له ټرومېټامول (Trometamol) څخه وروسته شدید حساسیتي غبرګون درلود چې د روښنایۍ هغه توپیر کې یو له کارېدونکو موادو څخه دی چې په MRI راډیولوژیکي څېړنو کې استعمالېږي.
- تاسو ته د ډاکټر له لوري ویل شوي وي چې د طبي لاملونو له امله باید تاسو د COVID-19 د Spikevax **Moderna** واکسین یا د COVID-19 د **Pfizer** واکسین ونکړئ.

## د COVID-19 ددې واکسین له کولو څخه مخکې له خپل ډاکټر سره خبرې وکړئ، که چېرې تاسو:

- په تېر وخت کې د بل واکسین یا درملو په ګډون شدید حساسیتي غبرګون (anaphylaxis) درلود.
- د COVID-19 واکسینونو د مخکیني دوز څخه وروسته تاسو مایوکارډایټس (myocarditis) او پېري کارډایټس (pericarditis) یعنې د زړه د عضلې التهاب یا د زړه عضلې لاندې پوښ درلود.

هغه ماشومان چې مخکې یې د التهاب ملټي سیستم سنډروم (Multisystem Inflammatory Syndrome - MIS-C) درلود، کولی شي چې له روغېدو وروسته او له تشخیص لږ تر لږه 90 ورځې وروسته، هر یو له دې چې وروسته وي، د COVID-19 واکسین وکړي.

که چېرې تاسو په دې وروستیو کې د MPOX - چې مخکې د Moneypox (بیزو شري) په نوم پېژندل کېده - د Imvanex یا Jynneos واکسین ترلاسه کړې وي، نو د مایوکارډایټیس د نامعلوم خطر له امله باید د COVID-19 واکسین له ترلاسه کولو څخه مخکې 4 اونۍ انتظار وکړئ.

# د COVID-19 د Novavax واکسین - چې د *Nuvaxovid* په نوم هم پېژندل کېږي

احتمالي اړخيزې اغېزې او داچې په څومره تکرار سره واقع کېږي، لاندې ذکر شوي دي، چې ورپسې هغه معلومات راوړل شوي دي چې کله باید دا واکسین ترسره نشي. که چېرې په کوم شک کې یاست، نو تل له یو باوري روغتیایي متخصص څخه پوښتنه وکړئ.

| احتمالي اړخيزې اغېزې (جانبي عوارض): | |
|---|---|
| **ډېرې عامې**<br>په 10 کسانو کې له 1 څخه ډېرې | • د ستړیا احساس<br>• په عمومي ډول د ناروغۍ احساس<br>• د سر درد<br>• د زړه بدېدنه یا کانګې راتلنه<br>• عضلاتو کې درد<br>• د غړو درد<br>• ستاسو په هغه مټ کې له لمس کولو سره حساسیت یا درد چیرې چې تاسو واکسین پیچکارۍ کړې وي |
| **عامې**<br>په 10 کسانو کې تر 1 پورې | • تبه (د تودوخې درجه 38 سانتي ګراد یا پورته)<br>• په شاوخوا کې درد<br>• په واکسین شوې ځای کې سوروالی او پړسوب |
| **غیر معمولي**<br>په 100 کسانو کې تر 1 پورې | • د لمفاوي غدو پړسوب<br>• د وینې لوړ فشار چې د واکسین کولو وروسته د څو ورځو لپاره دوام وکړي<br>• له سرو رېږدېدل<br>• یو بخار یا سرې دانې<br>• د پوستکي سوروالی<br>• عمومي خارښت<br>• په واکسین شوې ځای کې خارښت<br>• لړمې |
| **نادرې**<br>په 1000 کسانو کې تر 1 پورې | • په واکسین شوې ځای کې تودوالی |
| **خورا نادرې**<br>تکرار یې تر اوسه معلوم ندی | • انافیلکسس (anaphylaxis) - یو شدید حساسیتي غبرګون<br>• د بدن په ځینو برخو کې د اغزي کېدو یا د چوخېدلو احساس یا د احساس له لاسه ورکول<br>• مایوکارډایټس (myocarditis) او پیری کارډایټس (pericarditis). د زړه عضلې د التهاب یا د زړه عضلې دنني پوښ په معنی دی. |

## د مایوکارډایټس او پېري کارډایټس نښې

مایوکارډایټس (myocarditis) او پېري کارډایټس (pericarditis) د زړه التهابي ناروغیو دي. که څه هم د دغو ناروغیو د رامنځته کېدو خطر ډېر کم دی خو بیا هم تاسې یې باید نښې وپېژنئ. ښایي دا نښې نښانې د واکسین له کولو څخه یو څو ورځې وروسته رامنځته شي او په اصل کې په 14 ورځو کې واقع کېږي. ددې واکسین له کولو څخه وروسته، که چېرې تاسې ددې نښو نښانو څخه کومه یوه یې ولرئ، نو طبي مرسته ترلاسه کړئ:

- ساه لنډي
- زوروره رپېدنه (د زړه زوروره رپېدنه چې ښایي بې ترتیبه وي)
- په سینه کې درد

---

## تاسو باید د COVID-19 Novavax (Nuvaxovid) واکسین ونکړئ که چېرې

- په تېر وخت کې تاسو د واکسین له موادو (د پولي سوربېټ 80 په ګډون) څخه سخت حساسیتي غبرګون درلودلی وي. د اجزاو د لیست کتلو لپاره د ناروغانو لپاره د تولیدوونکي معلوماتي پاڼه وګورئ. د مهربانی له مخې په یاد ولرئ چې د COVID-19 واکسینونه Janssen او Astrazeneca (Vaxzevria) هم پولي سوربېټ 80 لري.
- تاسو د واکسین پخواني دوز ته سخت حساسیتي غبرګون درلود.

---

## د COVID-19 ددې واکسین له کولو څخه مخکې له خپل ډاکتر سره خبرې وکړئ، که چېرې تاسو:

- د COVID-19 واکسینونو د مخکیني دوز څخه وروسته تاسو مایوکارډایټس (myocarditis) او پېري کارډایټس (pericarditis) (د زړه د پوښ التهاب) درلود.
- په تیر وخت کې سخت حساسیتي غبرګون (anaphylaxis) درلود، په شمول د کوم بل واکسین یا درمل پر وړاندې.

که چېرې تاسو په دې وروستیو کې د MPOX (چې مخکې د Moneypox (بیزو شري)) په نوم پېژندل کېده، (د Imvanex یا Jynneos) واکسین ترلاسه کړی وي، نو د مایوکارډایټیس د نامعلوم خطر له امله باید د COVID-19 واکسین له ترلاسه کولو څخه مخکې 4 اونۍ انتظار وکړئ.

## په هغه وخت کې باید څه وشي کله چې تاسو تبه یا نرم درد یا سخت درد لرئ

که تاسو تبه یا نرم یا سخت دردونه لرئ، نو تاسو یې د ارامولو لپآره پاراسیټامول یا آیبوپروفن خوړلی شئ. خو که ستاسو تبه له 48 ساعتونو څخه زیاته پاتې شي یا که تاسو اوس هم اندېښمن یاست، مهرباني وکړئ روغتیایي مشوره ترلاسه کړئ.

## د واکسین د اغېزي کولو لپاره اړین وخت

ستاسو د معافیتي سیستم غبرګون ښودل او له تاسو څخه د COVID-19 په مقابل کې ساتنه کول د واکسین له ترلاسه کولو څخه وروسته، تر 14 ورځو پورې، یو څه وخت نیسي.

ددې قوي او باوري شواهد شتون لري چې د COVID-19 واکسینونه د COVID-19 له امله د مړینو او سخت ناروغه کېدو په مخنیوي کې خورا اغېزناک دي.

تاسو باید د خپل ځان او نورو خلکو د خوندي ساتلو په اړه په **www.hse.ie** کې موجودې د عامې روغتیا مشورې تعقیب کړئ

## څنګه د اړخیزو اغېزو په اړه راپور ورکولی شئ

مونږ د COVID-19 واکسینونو په اړه پوهه ترلاسه کوو. که چېرې تاسو د COVID-19 واکسین کولو څخه وروسته له اړخیزې اغېزې سره مخ کېږئ، نو مونږ له تاسو غوښتنه کوو چې په اړه یې د روغتیایي محصولاتو تنظیموونکې ادارې (HPRA) ته خبر ورکړئ.

HPRA په ایرلینډ کې د درملو، طبي آلاتو او نورو روغتیایي محصولاتو تنظیموونکې اداره ده. د COVID-19 واکسین د یوې اړخیزې اغېزې په اړه د راپور ورکولو لپاره، د مهربانۍ له مخې له **www.hpra.ie/report** څخه لیدنه وکړئ. همدارنګه تاسو کولی شئ چې له خپل ډاکټر یا د کورنۍ له یو غړي څخه وغواړئ چې ستاسو لپاره د یوې اړخیزې اغېزې په اړه خبر ورکړي.

# ستاسو شخصي معلومات

په خوندي توګه د واکسین د ورکړې او د واکسین د څارنې او تنظیمونې لپاره د ټولو اړین معلومات ثبت کولو په موخه، HSE به ستاسو شخصي معلومات کاروي. د HSE لخوا پروسس/کارول شوي ټول معلومات به د عمومي قوانینو او په ځانګړي توګه د عمومي معلوماتو د ساتنې د مقرراتو GDPR سره سم وي چې په 2018 کې نافذ شوي.

ستاسو د معلوماتو پروسس کول به قانوني او عادلانه وي. دا به د واکسین د ورکولو چارې اداره کولو د ځانګړي هدف لپاره پروسس شي. د معلوماتو د لږ تر لږ استعمال اصل پلی شوی دی.

دا په دې معنا ده چې یواځې هغه معلومات چې د ستاسو د پېژندنې، د ستاسو د ویکسین د ترلاسه کولو وخت ټاکلو، د ویکسین ترلاسی ثبتولو او د هغه د تاثیراتو د ثبت کولو لپاره اړین وي ساتل کیږي.

تاسو د معلوماتو د موضوع په توګه خپل هغه شخصي معلوماتو په اړه چې پروسس شوي وي د GDPR دا لاندې حقوق لرئ.

- خپلو شخصي معلوماتو په اړه د معلوماتو او د لاسرسي غوښتنه وکړئ چې دې ته په عمومي توګه د 'معلوماتو د موضوع لخوا لاسرسی' ویل کیږي. دې له مخې تاسو وړ یاست چې موږ له خوا د ستاسو په اړه ساتل شویو معلوماتو نقل ترلاسه کړئ او معاینه کړئ چې آیا دا په قانوني توګه پراسس کیږي یا نه.
- موږ سره موجودو د ستاسو په اړه معلوماتو کې د اصلاح خواست وکړئ. د دې په برکت تاسو کولای شئ چې موږ سره د ستاسو په اړه معلوماتو کې د کوم غلطیانو اصلاح وکړئ.
- خواست کولای شئ چې د ستاسو معلومات باید له منځه یووړل شي. دا تاسو ته وړتیا ورکوي چې په داسې حال کې چې موږ د ستاسو د معلوماتو د ساتلو لپاره هیڅ کوم معقول دلیل نه لرو تاسو کولای شئ چې دا معلومات ډیلیټ شي یا ترې شخصي ډاټا لرې کړای شي. که تاسو د خپلو معلوماتو د پراسس کېدا په ضد اعتراض کړی دی نو کولای شئ چې د خپل حق تر مخې د دغه معلوماتو د ډیلیټ کېدا یا ترې د شخصي معلوماتو د لرې کېدا غوښتنه وکړئ.
- د خپلو شخصي معلوماتو د پراسس کېدا په ضد اعتراض وکړئ.

نور معلومات په **www.hse.ie/eng/gdpr** کې شتون لري

## چیرته نور معلومات پیدا کولی شئ

**www.hse.ie** د لاندې موضوعاتو په اړه زمونږ د متخصصینو له لوري ورکړل شوي د COVID-19 تفصیلي معلومات لري:

- موجود واکسینونه او داچې څوک یې ترلاسه کولی شي
- د واکسین ترسره کولو څرنګوالی
- د ناروغۍ له لرلو وروسته د واکسین کول
- د واکسین د دوزونو هغه شمېر چې ستاسو لپاره یې سپارښتنه کېږي
- د ماشومانو د واکسینولو په اړه پرېکړه کول
- نښې نښانې او ازموینه کول
- د خپل ځان او نورو خلکو د خوندي ساتلو په اړه مشوره

تاسو ته د درکړل شوي واکسین په اړه د نورو معلوماتو لپاره، تاسو کولو شئ چې د ناروغانو لپاره د تولیدوونکي معلوماتي پاڼه ولولئ. دا به ستاسو د واکسین کولو په ورځ ستاسو لپاره شتون ولري یا تاسو کولی شئ چې په **www.hse.ie/covid19vaccinePIL** کې یې ومومئ

که چېرې تاسو د واکسین په اړه کومې پوښتنې لرئ، نو کولی شئ چې د خپل واکسینوونکي، ډاکټر، درمل پوه یا روغتیاپالنې ټیم په څېر د روغتیا برخې له یو مسلکي کس سره خبرې وکړئ.

همدارنګه تاسو کولی شئ چې له HSELive سره په وړیا ټلیفون (Freephone) **1800 700 700** اړیکه ونیسئ. زمونږ ټیم له دوشنبې څخه تر جمعې ورځې د سهار له 8 بجو څخه د ماښام تر 8 بجو یا د شنبې په ورځو د سهار له 9 بجو څخه د ماښام تر 5 بجو پورې ستاسو د مرستې لپاره شتون لري.

COVID-19 VACCINE

د HSE له لوري په اګست 2024 کې چاپ شوی

د تر ټولو تازه معلوماتو لپاره له **www.hse.ie** څخه لیدنه وکړئ

د فرمايش کوډ: HNI01602

Rialtas na hÉireann
Government of Ireland